دافغانستان اسلامي جمهوريت
دعدليي وزارت

# رسمي جريده

- د درملو قانون
- د افغانستان د اسلامي جمهوريت د علومو د اکاډمۍ د ټاکنو مقرره
- د وزيرانو شوري د ۱۳۸۵/۵/۲۲ نېټې د (۷)گڼې مصوبې د الغاء په هکله د افغانستان د اسلامي جمهوريت د وزيرانو د شوري د ۱۳۸۷/۲/۲ نېټې (۵) گڼه مصوبه

- قانون ادویه
- مقررهٔ انتخابات اکادمی علوم جمهوری اسلامی افغانستان
- مصوبهٔ شماره (۵) مؤرخ ۱۳۸۷/۲/۲ شورای وزیران ج.ا.ا در مورد الغای مصوبهٔ شماره (۷) مؤرخ ۱۳۸۵/۵/۲۲ شورای وزیران

د خپريدو نېټه: د ۱۳۸۷ هــ .ش کال د لړم د مياشتې (۲۹)
پرله پسې نمبر: (۹۶۳)

تاريخ نشر : (۲۹) عقرب سال ۱۳۸۷ هــ . ش
نمبر مسلسل: (۹۶۳)

**د درملو دقانون دتوشېح په هکله دافغانستان داسلامي جمهوريت د رئيس فرمان**

**ګڼه : (۱۱٦)**

**نېټه :۱۳۸۷/۸/۲۸**

**لومړۍ ماده :**

دافغانستان داساسي قانون (دڅلورشپېتمې مادې د (۱٦) فقرې اوسلمې مادې)دحکم له مخې ، د درملوقانون چې په (۸) فصلونو او (۵۳) مادوکې دملي شوري دمجلسينو دګډ هيئت د ۱۳۸۷/۸/۱۴ نېټې د(۱۰۳) ګڼې فيصلې په ترڅ کې تصويب شوی دی ، توشېح کوم .

**دوه يمه ماده :**

دغه فرمان دتوشېح له نېټې څخه نافذ او له فيصلې او قانون سره

**فرمان رئيس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشيح قانون ادويه**

**شماره :(۱۱٦)**

**تاريخ :۱۳۸۷/۸/۲۸**

**مادۀ اول:**

به تأسی از حکم فقرۀ (۱٦) مادۀ (شصت وچهارم و مادۀ صدم) قانون اساسی افغانستان ، قانون ادويه را که در (۸) فصل و (۵۳) ماده طی فيصله شماره (۱۰۳) مؤرخ ۱۳۸۷/۸/۱۴ هيئت مختلط مجلسين شورای ملی به تصويب رسيده ، توشيح می دارم.

**مادۀ دوم :**

اين فرمان از تاريخ توشيح نافذ وهمراه با فيصله وقانون

يو ځای دې په رسمي جريــــده کې خپور شي.

**حامد کرزی**

**دافغانستان داسلامي**

**جمهوريت رئيس**

در جريـــــدهٔ رســـــمی نـــــشر گردد .

**حامد کرزی**

**رئيس جمهوری اسلامی**

**افغانستان**

دافغانستان اسلامي جمهوريت

ملي شوري

د درملو د قانون په هکله دملي شوري مصوبه

ګڼه : (۱۰۳)

نېټه : ۱۳۸۷/۸/۱۴

داساسي قانون د سلمې مادې د حکم مطابق ، دملي شوري ګډه هيئت ( دهرې جرګې له پنځه پنځه غړو څخه جوړ) د درملو قانون په (۸) فصلونو او (۵۳) مادوکې د ۱۳۸۷ کال د زمري د مياشتې په (۱۹) نېټه تصويب کړ.

د ګډ هيئت رئيس

ډاکتر باختر "امين زی"

دګډ هيئت معاون

ډاکتر نعمت الله

جمهوری اسلامی افغانستان

شورای ملی

مصوبهٔ شورای ملی در مورد قانون ادويه

شماره :(۱۰۳)

تاريخ : ۱۳۸۷/۸/۱۴

مطابق حکم مادهٔ صدم قانون اساسی ، هيئت مختلط شورای ملی (مرکب از پنج پنج عضو از هرجرگه ) قانون ادويه را به تاريخ (۱۹) ماه اسد سال ۱۳۸۷ در(۸) فصل و (۵۳) ماده تصويب نمود.

رئيس هيئت مختلط

داکتر باختر "امين زی"

معاون هيئت مختلط

داکتر نعمت الله

# فهرست مندرجات قانون ادویه

## فصل اول

## احکام عمومی

| مواد | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ اول: | مبنی............................................ | ۱ |
| مادۀ دوم: | اصطلاحات........................................ | ۱ |

## فصل دوم

## بوردملی دوائی

| مواد | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ سوم: | بورد ملی دوائی .................................. | ۹ |
| مادۀ چهارم: | وظایف و صلاحیت های بورد ملی دوائی ...... | ۱۱ |

## فصل سوم

## فورمولیر ملی افغان

| مواد | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ پنجم : | مجموعۀ فورمولیر ملی افغان.................. | ۱۳ |
| مادۀ ششم: | نشر ضمیمۀ فورمولیر........................... | ۱۴ |
| مادۀ هفتم: | عدم درج اسم تجارتی........................... | ۱۴ |

## فصل چهارم

## تولید و واردکردن ادویه و سایر لوازم و تجهیزات طبی

| مواد | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ هشتم: | صدور اجازه نامه ................................ | ۱۵ |
| مادۀ نهم: | تولید ،وارد کردن و عرضۀ ادویه خارج از لست ادویه مجاز............................................ | ۱۵ |

مادۀ دهم: جواز فعالیت ..................................۱۶
مادۀ یازدهم: مرجع تدارک ادویه برای مؤسسات صحی دولتی.........................................۱۶
مادۀ دوازدهم: واردکردن و عرضۀ ادویه توسط مؤسسات غیر دولتی......................................۱۷
مادۀ سیزدهم: وارد کردن ادویه توسط مؤسسات علمی و تحقیقی.........................................۱۸
مادۀ چهاردهم: تهیۀ مواد کمیاوی................................۱۹
مادۀ پانزدهم: تدارک ادویۀ مورد استفاده درواقعات خاص....۱۹
مادۀ شانزدهم: تعیین قیمت فروش ادویه......................۲۰

## فصل پنجم

## فروش ادویه وسایرلوازم طبی

مادۀ هفدهم : تأسیس دواخانه.................................۲۰
مادۀ هجدهم : جواز فعالیت دواخانه...........................۲۱
مادۀ نزدهم : درجه بندی دواخانه.............................۲۲
مادۀ بیستم: حق الامتیاز تأسیس دواخانه.........................۲۴
مادۀ بیست ویکم: فروش وتملیک دواخانه.........................۲۴
مادۀ بیست ودوم: فروش ادویه طبق نسخه طبیب................۲۶
مادۀ بیست وسوم: موارد نگهداری و انتقال ادویه...............۲۷
مادۀ بیست وچهارم: مرجع تسلیمی ادویۀ کمکی...................۲۸
مادۀ بیست وپنجم : نسخۀ خریداری..............................۲۸

مادۀ بیست وششم: عدم فروش ادویه درمعاینه خانه.................۲۹
مادۀ بیست و هفتم: طرزفعالیت دواخانه..............................۲۹

## فصل ششم

## استفادۀ معقول ادویه وسایر لوازم طبی

مادۀ بیست و هشتم: استفاده معقول ادویه............................۲۹
مادۀ بیست و نهم: عدم تجویز ادویۀ غیر مجاز......................۳۰
مادۀ سی ام: طرزتحریر نسخه.................................۳۰
مادۀ سی ویکم: مشخصات نسخه..............................۳۱
مادۀ سی ودوم : ارزیابی نسخه.................................۳۲
مادۀ سی وسوم: تدریس نام جنریک ادویه.......................۳۲
مادۀ سی وچهارم : شمولیت مفاهیم اساسی ادویه درپروگرام درسی.۳۳
مادۀ سی وپنجم : نشر گزارش عکس العمل های دوائی...........۳۳
مادۀ سی وششم : اشتهارات و تبلیغات ادویه......................۳۴
مادۀ سی وهفتم: ممنوعیت تطبیق دوا در عضویت...............۳۴
مادۀ سی وهشتم : محوادویه.....................................۳۵

## فصل هفتم

## احکام جزائی

مادۀ سی ونهم : پرداخت های نقدی..........................۳۵
مادۀ چهلم : تعلیق امتیاز وارد کردن.........................۳۶
مادۀ چهل ویکم : تولید ووارد کردن ادویۀ تقلبی...............۳۷
مادۀ چهل ودوم : فروش ادویه کمکی.........................۳۷

مادۀ چهل وسوم : اشتهارات و تبلیغات............................۳۸
مادۀ چهل وچهارم : سلب فعالیت دواخانه............................۳۹
مادۀ چهل وپنجم : مسدودیت و تعلیق............................۳۹
مادۀ چهل وششم : تحویلی پول............................۴۰
مادۀ چهل وهفتم : تخلف از احکام مقررۀ............................۴۰

## فصل هشتم

## احکام متفرقه

مادۀ چهل وهشتم : مفتشین دوائی............................۴۱
مادۀ چهل ونهم : ادویه عنعنوی............................۴۱
مادۀ پنجاهم : نگهداری و ذخیره ادویه............................۴۱
مادۀ پنجاه ویکم : مکلفیت مسئوولین گمرکات............................۴۲
مادۀ پنجاه ودوم : ایجاد مرکز سم شناسی............................۴۲
مادۀ پنجاه وسوم : انفاذ............................۴۳

بسم الله الرحمن الرحيم

# د درملو قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د عامې روغتيا د قانون په نهه ويشتمه ماده کې د درج شوي حکم له مخې په هېواد کې د درملو، طبي لوازمو او تجهيزاتو د غوره کولو،توليد، واردولو، وېش او زېرمه کولو او له هغو څخه د مناسبې ګټې اخستنې اړوندو چارو د تنظيم په منظور، وضع شوی دی.

**اصطلاحګانې**

**دوه يمه ماده:**

پدې قانون کې لاندې اصطلاحګانې، دغه معناوې افاده کوي:

۱- درمل:کيمياوي او فيزيولوژيکي ماده، ده چې د انساني او حيواني ناروغيو دتشخيص او درملنې او له

# قانون ادویه

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول :**

این قانون به تأسی ازحکم مندرج مادۀ بیست ونهم قانون صحت عامه به منظور تنظیم امور مربوط به انتخاب ، تولید، واردکردن ، توزیع وذخیره ادویه ، لوازم وتجهیزات طبی و استفادۀ مناسب ازآن در کشور، وضع گردیده است.

**اصطلاحات**

**مادۀ دوم :**

اصطلاحات آتی در این قانون معانی ذیل را افاده می نماید :

۱- دوا : مادۀ کیمیاوی و فیزیولوژیکی است که به منظورتشخیص و تداوی امراض

هغو شخه د وقايې په منظور،ترګټې اخستنې لاندې نيول کيږی.

۲- اغيزمنه ماده:د درملو په هغـــهٔ جزاطلاقيږي چې د مطلوبو اغېزو لرونکي وي.

۳-مجازدرمل:هغه مـــؤثراو مصئون درمل دي چې دهېواد په دننه کې د هغـــو د توليـــد، واردولو او ګټې اخـــستنې اجـــازه، دعامې روغتيا وزارت لخوا صادره شوې وي.

۴-اساسي درمـــل:لـــه اغېزمنـــو، خوندي (مصئونو)او کيفيت لرونکو درملو شخه عبارت دي چې تر زياته حده روغتيايي اړتياوې لرې کړي.

۵- عنعنـــــــوي درمـــــــل: (Traditional Medicine) هغه درمل دي چـــې اوږدهٔ کلونـــه دعنعنوي طبيبانو لخـــوا تجـــويزاو ترګټې اخستنې لاندې نيول شويدي او ګټه اخستنه اوشهرت يې دشفاهي روايتونو يا زړو متنونو په اثر پرڅای

انسانی و حيوانی ووقايه ازآن، مورد استفاده قرار می گيرد .

۲- مادهٔ مؤثر : بـــه آن جـــزء دوا اطلاق می گردد که دارای تأثيرات مطلوب باشد.

۳- ادويـــهٔ مجـــاز: ادويـــهٔ مؤثرومصئون است که اجـــازهٔ توليد ، واردکردن و استفادهٔ آن در داخـــل کـــشور از طـــرف وزارت صـــحت عامـــه صـــادر گرديـــده باشد.

۴- ادويهٔ اساسی : عبارت از ادويهٔ مؤثر، مصئون و با کيفيتی است که حد اکثر نيازمندی های صـــحی را مرفوع نمايد .

۵- ادويـــــــهٔ عنعنـــــــوی: (Traditional Medicine ) ادويهٔ است که سال های متمـــادی توسط طبيبان عنعنوی تجويز و مورد استفاده قرار گرفتـــه ، اســـتفاده و شهرت آن به اثر روايـــات شـــفاهی و يـــا متـــون قـــديمی اســـتوار

پاتي دی.

۶- تقلبي درمل:هغه درمل دي چې د درملو ديوې توليدي مؤسسې لخوا د اصلي توليدي مؤسسې له اجازې پرته يا پخپله داصلي توليدی مؤسسی لخوا ترعين نوم، ډول،بسته بندۍ او لېبل لاندې برابر او په ترکيب کې يې د اغيزمنو موادو مقدار ، دتثبيت شوو معيارونو په نسبت لږاستعمال شوي وي.

۷- ناقص درمل:هغه درمل دي چې دکميت ،کيفيت او محتوي له نظره، منل شوو درمليزو معيارونو ته په پام سره د هغه د لېبل اوبسته بندۍ مطابق نه وي.

۸- اړخيز(جانبي) عوارض: غيرمطلوبې اغېزې دي چې د درمليزمقدار(درمليز دوز)دګټې اخستنې له امله راپيداکېږي اوعضويت ته زيانمن وي.

۹- درمليزمواد اوطبي لوازم: دپانسمان،جراحی،مصنوعي

می باشد .

۶- ادويهٔ تقلبی : ادويهٔ است که توسط يکی ازمؤسسات توليدی دوا بدون اجازهٔ مؤسسهٔ توليدی اصلی يا توسط خود مؤسسهٔ اصلی توليدی تحت عين نام ، شکل ، بسته بندی وليبل تهيه ودرترکيب آن مقدار مواد مؤثر بانظرداشت معيار های تثبيت شده کمتراستعمال شده باشد .

۷- ادويهٔ ناقص : ادويهٔ است که از نظر کميت ، کيفيت و محتوی با نظرداشت معيار های قبول شدهٔ دوائی مطابق ليبل و بسته بندی آن نباشد .

۸- عوارض جانبی : تأثيرات نا مطلوبيست که بالا ثراستفادهٔ مقاديرمعالجوی (دوز تداوی) آن ظهور نموده وبرای عضويت مضر باشد.

۹- مواد دوائی ولوازم طبی: شامل مواد ووسايل پانسمان،

غړو مواد او وسايل، په طبي لابراتوارونوکې تشخيصيه وسايل او د استعمال وړ کيمياوي مواد، دغاښونو په طب کې داستعمال وړ مواد او وسايل پکې شامل دي چې په روغتيائي څارنه کې ترګټې اخستنې لاندې نيول کيږي.

۱۰- طبي تجهيزات : هغه تجهيزات دي چې د تشخيص، درملنې اوڅارني لپاره د مصئونواوقبول شويو معيارونو په اساس طرح شوي او استفاده کيږي .

۱۱- له درملو څخه معقوله ګټه اخستنه: کلينيکي اړتيا ته په کتنې سره په کافي مقدار د فردي ضرورت له مخې دټاکلې مودې لپاره په مناسبه بيه له درملو څخه ښه ګټه اخستنه ده.

۱۲- جنريک نوم:د درملو نړيوال رسمي او نه سوداګريز نوم دي

**International Name Nonproprietary** يا (INN).

جراحی ، اعضای مصنوعی ، وسایل تشخیصیه و مواد کیمیاوی مستعمله در لابراتوار های طبی و مواد و وسایل مستعمله در طب دندان میباشد که درمواظبت های صحی مورد استفاده قرار می گیرد .

۱۰- تجهیزات طبی : تجهیزاتی است که به اساس معیار های مصئون قبول شده طرح ریزی شده و برای تشخیص، مراقبت ویا تداوی استفاده می شود.

۱۱- استفادهٔ معقول ادویه : استفادهٔ بهتر ادویه با نظر داشت ضرورت کلینیکی به مقدار کافی نظر به ضرورت فردی برای مدت معین با قیمت مناسب .

۱۲- نام جنریک : نام رسمی و غیر تجارتی بین المللی ادویه است.

**International Name Nonproprietary** یا (INN).

۱۳- جنریک محصول: هغه درمل دي چې تولید یې په یوې مشخصې کمپنۍ پورې منحصر نه وي او په نورو کمپنیو کې هم تولیدېداي شي.

۱۴- اومهٔ مواد: اغېزمن یا نه اغېزمن مواد دي چې د درملو د مختلفو ډولونو د برابرولو لپاره تر ګټې اخستنې لاندې نیول کېږي.

۱۵- دسته (Batch): د درملو د مقدار ماحصل یا نور طبي لوازم دي چې په یوهٔ پړاو او وار کې تر عین شرایطو لاندې په عین ترکیب او کیفیت سره تولید شوي وي.

۱۶- د دستې شمېره:( Batch Number) د تولید د یوې دستې مخصوصه شمېره ده.

۱۷- لیبل: د نوم، درملیز ډول، د ساتنې د شرایطو، مقدار او درملیز مستحضر د ترکیب، د دستې د شمیري، د جوړېدو د نېټې، د ګټې اخستنې د پای د نېټې او د مؤلدې

۱۳- محصول جنریک : دوای است که تولید آن منحصر به یک کمپنی مشخص نبوده و در سایر کمپنی ها نیز تولید شده می تواند .

۱۴- مواد خام : مواد مؤثر یا غیر مؤثری است که جهت تهیهٔ انواع مختلف ادویه مورد استفاده قرار می گیرد.

۱۵- دسته (Batch) : ماحصل مقدار دوا یا سایرلوازم طبی است که در یک مرحله و نوبت تولیدی تحت عین شرایط به عین ترکیب و کیفیت تولید گردیده باشد.

۱۶- شمارهٔ دسته ( Batch Number) : شمارهٔ مخصوص یک د سته تولید است.

۱۷- لیبل : ورقهٔ حاوی نام ، شکل دوایی ، شرایط نگهداری ، مقدار و ترکیب مستحضر دوایی، شمارهٔ دسته ، تاریخ ساخت ، تاریخ ختم استفاده ، نام وآدرس

کمپنۍ د نوم او آدرس لرونکې پاڼه ده چې د ظرف یا بسته بندۍ د پاسه لګول کېږي.

۱۸- بسته بندي: په لازمو مشخصو شوو بستو کې د درملیزو وروستیو محصولاتو او نورو طبي لوازمو او تجهیزاتو د تنظیم عملیه ده چې په حمل او نقل، زېرمه کولو کې د ډاډمنې ساتنې او د هغو له خرابېدو څخه د مخنیوي (د یو لړ معلوماتو په لرلو سره) په منظور، صورت مومي.

۱۹- فارمسست: هغه شخص دی چې د فارمسۍ په برخه (رشته) کې د لوړو زده کړو د سند لرونکی وي.

۲۰- د فارمسست مرستیال: هغه شخص دی چې د فارمسۍ په برخه کې د ښوونیزو مسلکي مراجعو له دوولسم ټولګي څخه لږ ترلږه له دوو کلونو څخه لوړ د فراغت د سند لرونکی وي.

۲۱- د فارمسۍ کارکوونکی: هغه شخص دی چې د دوولسم ټولګي

کمپنی مؤلد است که بالای ظرف و یا بسته بندی نصب می گردد.

۱۸- بسته بندی : عملیهٔ تنظیم محصولات نهائی دوایی وسایر لوازم و تجهیزات طبی در بسته های لازم مشخص شده است که به منظور محافظهٔ مطمئن در حمل و نقل، ذخیره و جلوگیری از تخریب (با داشتن یک سلسله معلومات) صورت می گیرد.

۱۹- فارمسست : شخصی است که در رشتهٔ فارمسی دارای سند تحصیلات عالی باشد.

۲۰- معاون فارمسست : شخصی است که در رشتهٔ فارمسی حایز سند فراغت حداقل دوسال بالاتر از صنف دوازدهم از مراجع تعلیمی مسلکی باشد.

۲۱- کارکن فارمسی : شخصی است که فارغ صنف دوازده بوده در

فارغ وي، د فارمسۍ په يوه برخه کې يې د اړوندو کورسونو له لارې لږ تر لږه شپږمياشتې مسلکي ښوونې ترلاسه کړې وي.

۲۲- د درملو،طبی لوازمواوتجهيزاتو واردوونکی: هغه شخص دی چې د اړوند تقنيني سند د حکمونو مطابق يې سوداګريز جواز او د درملو او نورو طبي لوازمو اوتجهيزاتو د واردولو امتياز، لاسته راوړی وي.

۲۳- د درملو ،طبی لوازمو او تجهيزاتو عمده پلورونکی: هغه شخص دی چې د اړوند تقنيني سند د حکمونو مطابق يې په عمده توګه د درملو او نورو طبي لوازمو او تجهيزاتود پلورنې امتياز لاسته راوړی وي.

۲۴- درمليز پلټونکی: هغه فارمسست دی چې د مجازو درملو په توليد، واردولو، زېرمه کولو او وړاندې کولو پورې اړوندې چارې کنترول

یکی از بخش های فارمسی حد اقل مدت شش ماه ازطریق کورس های مربوط، آموزش تعلیمات مسلکی کسب نموده باشد.

۲۲- وارد کنندۀ ادویه ،لوازم وتجهیزات طبی : شخصی است که جواز تجارتی و امتیاز واردکردن ادویه و سایر لوازم وتجهیزات طبی را مطابق احکام سند تقنینی مربوط بدست آورده باشد .

۲۳- عمده فروش ادویه،لوازم وتجهیزات طبی: شخصی است که امتیاز فروش ادویه و سایر لوازم وتجهیزات طبی را طورعمده مطابق به احکام سند تقنینی مربوط بدست آورده باشد.

۲۴- مفتش دوایی : فارمسستی است که امور مربوط به تولید ، واردکردن، ذخیره و عرضۀ ادویه مجاز را کنترول و تفتیش می

او پلټي.

۲۵- درملتون: هغه ځای دی چې ددې قانون او اړوندې مقــررې د حکمونو مطابق، د درملو او نـورو طبي لوازمو د برابرولو او وړانــدې کولو په منظور، جوړ شوی وي.

۲۶- د درملتون فنــي مــسؤول: فارمسست او د فارمسست مرستيال دی چې د اړوندو تقنيني سندونو د حکمونو مطابق، د درملتون د ټولو فني چارو مسؤول وي.

۲۷- نسخه: هغه چاپي پاڼه ده چې پکې د طبيب ليکلی تجويز، د درملو د برابرولو او وېشلو په منظور، فني مسؤول ته ورکول کېږي.

۲۸- شفري او قيدي نسخه: هغـــه نسخه ده چې په مستعار نوم يا پـــه مخففه توګه د ناوړې ګټې اخستنې په منظور، د طبيب او درملتون تـــر مينځ د غير مجاز اړيکيو پر بنـــسټ ليکل کېږي.

۲۹- دطبی لوازمـــو اوتجهيزاتـــو

نمايد.

۲۵- دواخانه : مکانی اســت که مطابق احکام ايــن قــانون ومقررۀ مربوط به منظور تهيه و عرضۀ ادويه و ساير لوازم طبی تأسيس گرديده باشد.

۲۶- مــسؤول فنــی دواخانـــه : فارمسست و معــاون فارمســست است که مطابق احکام اسناد تقنينی مربوط مسؤول تمــام امــور فنــی دواخانه می باشد.

۲۷- نـــسخه : ورقـــۀ مطبـــوعی است که درآن تجويزتحريری طبيب به منظورتهيه وتوزيع ادويه به مسؤول فنی داده می شود .

۲۸- نسخۀ شفری و قيدی : نسخۀ است که به اساس ارتباط غير مجاز بين طبيب و دواخانـــه بـــه منظـــور استفاده جوئی، تحت نام مــستعاريا بـــــصورت مخفـــــف تحريـــــر می گردد.

۲۹- مفتش لوازم وتجهيزات طبی:

پلټونکي : د طبی وسایلو انجنیر دی چې دمجازو طبی لوازمو اوتجهیزاتو په تولید ، واردولو ، زیرمه کولو او وړاندي کولو پوري اړوندي چاري کنترول اوپلټي .

۳۰- دطبی تجهیزاتو د پلورلو ځای:هغه ځای دی چې دقانون او اړوندی مقرری سره سم دطبی تجهیزاتو دعرضی اوچمتوکولو په موخه تأسیس شوي وي .

## دوه یم فصل

## درملیز ملي بورد

**درملیزملي بورد**

دریمه ماده:

درملیزملي بورد،د درملو، طبي لوازمواو تجهیزاتو او له هغو څخه دراپیدا کېدونکو ستونزو په اړوندو چارو کې د تصمیم نیونې ډېره لوړه مرجع ده چې په لاندې ترکیب سره جوړیږي:

۱-دعامې روغتیا وزیر د رئیس په توګه.

انجنیر و سایل طبی است که امور مربوط به تولید ، واردکردن ، ذخیره وعرضۀ لوازم وتجهیزات طبی مجاز را کنترول وتفتیش می نماید .

۳۰- محل فروش تجهیزات طبی : مکانی است که مطابق احکام قانون ومقررۀ مربوط به منظور تهیه وعرضۀ تجهیزات طبی تأسیس گردیده باشد.

## فصل دوم

## بورد ملی دوائی

**بورد ملی دوائی**

مادۀ سوم :

بورد ملی دوائی عالیترین مرجع تصمیم گیری در امور مربوط به دوا ، لوازم وتجهیزات طبی و مشکلات ناشی از آن می باشد که به ترکیب ذیل ایجاد می گردد :

۱-وزیرصحت عامه به حیث رئیس .

۲- د فارمسۍ د چــارو عمــومی رئیس د مرستیال په توګه.

۳- دابن سینا دفارمسۍ انستیتیوت رئیس دغړي په توګه .

۴- دفارمـــسۍ د پـــوهنځي د اړونـــد ډیپارتمنت دوه تنه استادان دنوموړي پوهنځي په ټاکنه دغړي په توګه.

۵- دکابـــل طبـــي پوهنتـــون د فارموکولوژۍ دیپارتمنت یوتن استاد دنوموړي پوهنتون په ټاکنه د غـــړي په توګه.

٦- د درملیزو چارو رئیس د غړي په توګه.

۷- د فارمسۍ د تصدۍ رئیس د غړي پـــه توګه.

۸- دخوراک (خوړو) اودرملو دلابراتوارونو د دیپارتمنت رئیس دغړي په توګه.

۹- دعامې روغتیا دوزیرپـــه ټاکنه په روغتون کې مؤظـــف یوتن د داخلي متخصص دغړي په توګه .

۱۰- د روغتیایي قوانینو څخه دڅېړنې رئیس دغړي په توګه.

۲-رئیس عمومی امور فارمسی بـــه حیث معاون .

۳-رئیس انستیتیوت ابن ســـینا بـــه حیث عضو .

۴- دو تن ازاســـتادان دیپارتمنـــت مربوط به فارمـــسی بـــه انتخـــاب پوهنځی فارمسی به حیث عضو.

۵- یـــک نفـــراز دیپارتمنـــت فـــارموکولوژی پوهنتـــون طبـــی کابل به انتخاب پوهنتون طبـــی بـــه حیث عضو .

٦-رئیس اموردوائی به حیث عضو.

۷-رئیس تصدی فارمسی به حیـــث عضو.

۸- رئیس دیپارتمنت لابراتوار دوا وغذا به حیث عضو .

۹-یک تـــن متخـــصص داخلـــه ، مؤظف درشـــفاخانه بـــه انتخـــاب وزیر صـــحت عامـــه بـــه حیـــث عضو .

۱۰- رئـــیس بررســـی قـــوانین صحی به حیث عضو.

۱۱- دعامې روغتيا دوزيرپه تاکنه په روغتون کې مؤظف يوتن دجراحۍ متخصص دغړي په توګه .

۱۲- د درملو دواردوونکو دملي اتحادي څخه يوتن دغړي په توګه .

۱۳- د درملو دتوليدوونکو دملي اتحادي څخه يوتن دغړي په توګه .

<u>د درمليز ملي بورد دندې او واکونه</u>

څلورمه ماده:

درمليز ملي بورد د لاندې دندو او واکونو لرونکی دی:

۱- د مجازو درملو د لست تصويبول.

۲- د اړوندو تقنيني سندونو د حکمونو مطابق د ابن سينا د فارمسۍ د انستيتيوت د فعاليتونو څارل.

۳- د اړوندې مسلکې څانګې له نظر ورکولو وروسته د مجازو درملو

۱۱- یک تن متخصص جراحی مؤظف درشفاخانه به انتخاب وزیر صحت عامه به حیث عضو .

۱۲- یک تن از نمایندگان اتحادیه ملی وارد کنندگان ادویه به حیث عضو .

۱۳- یک تن از نمایندگان اتحادیه ملی تولید کنندگان ادویه به حیث عضو .

<u>وظایف وصلاحیت های بورد ملی دوائی</u>

مادۀ چهارم :

بورد ملی دوائی دارای وظایف و صلاحیت های ذیل می باشد:

۱- تصویب لست ادویۀ مجاز .

۲- مراقبت از فعالیت انستیتوت فارمسی ابن سینا طبق احکام اسناد تقنینی مربوط .

۳- حذف یا اضافه نمودن ادویۀ معین در لست ادویۀ مجاز

په لست کې د ټاکلو درملو حذفول یا زیاتول.

۴- د درملیز ملي بورد د غوره شوې کمیټې لخوا زیات نه زیات له هرو درېو کلونو وروسته په ترتیب شوي لست کې پر درج شوو مجازو درملو باندې نوې کتنه.

۵- د افغان ملي فورمولیر تایید او تصویب.

٦- د اساسي او مجازو درملو او د هېواد دملي فورمولیر د لستونو د نوي کولو د کمیتو او همدارنګه د فارمسي په چار و پوري دعلمي او مسلکي مختلفو کمیتو ټاکل.

۷- د فارمسي چارو پورې اړوند د علمي او تحقیقاتي پروګرامونو تصویب.

۸- په فارمسي پورې د اړوندو لوایحو او کړنلارو تصویبول.

۹- د هېواد د درملو د کلني اړتیا تصویبول چې د اړوند اداري لخوا اټکل شوي.

بعد از ابراز نظرمسلکی شعبهٔ مربوط.

۴- تجدید نظر بر ادویهٔ مجاز مندرج لست مرتبه حد اکثر بعد از هر سه سال توسط کمیتهٔ منتخبهٔ بورد ملی دوایی .

۵- تائید و تصویب فورمولیر ملی افغان.

٦- تعیین کمیته های تجدید لست های ملی ادویه اساسی و مجاز و فورمولیر ملی کشور و همچنان کمیته های مختلف علمی و مسلکی مربوط به امور فارمسی.

۷- تصویب برنامه های علمی و تحقیقاتی مربوط به امور فارمسی.

۸- تصویب لوایح و طرزالعمل های مربوط به امور فارمسی.

۹- تصویب ضرورت های دوایی سالانه کشور که توسط اداره مربوط تخمین شده اند.

۱۰- د هېواد په کچه د درمليزو خدمتونو د وړاندې کولو د ټولو سيستمونو څارنه.

## درېيم فصل

## افغان ملي فورمولير

**د افغان ملي فورمولير ټولګه(مجموعه)**

**پنځمه ماده:**

(۱) د افغان ملي فورمولير په ټولګه کې د مجازو درملو لست، د نوموړو درملو انفرادي تشريح او له درملو څخه د معقولې ګټې اخستنې په تړاو نور اضافي معلومات شامل دي چې د درملو د ملي بورد په ټاکنه د فارمسۍ د پوهنځي او طبي پوهنتون له استادانو او د ابن سينا د فارمسۍ انستيتيوت د مسلکي غړو څخه د جوړې شوې کميټې په واسطه ترتيبېږي.

(۲) پر افغان ملي فورمولير بانــدې نوې کتنه، له هرو درېـو کلونـو

۱۰- نظارت از مجموع سيستم عرضه خدمات دوائی در سطح کشور.

## فصل سوم

## فورمولير ملی افغان

**مجموعۀ فورمولیرملی افغان**

**مادۀ پنجم:**

(۱) فورمولیرملی افغان مجموعۀ شامل لست ادويۀ مجاز، تشريح انفرادی ادويۀ مذکور ومعلومات اضافی ديگر در رابطه به استفادۀ معقول ادويه است که توسط کميتۀ مرکب از استادان پوهنځی فارمسی و پوهنتون طبی کابل واعضای مسلکی انستيتيوت فارمسی ابن سينا به انتخاب بورد ملی دوائی ترتيب می گردد .

(۲) تجديد نظر برفورمولير ملی افغان بعد ازهرسه سال

ورروسته، ددې مادې په (۱) فقـــره کې د درج شوې کميټــې لخــوا صورت مومي.

(۳) د عامې روغتيا وزارت مکلف دی، افغان ملي فورمولير طبـــع او خپور کړي.

**د فورموليز د ضميمې خپرېدل**

**شپږمه ماده:**

که چېرې د افغان ملي فورمـــولير د خپرېدو د دريو کلونو مودې په بهير کې، د اړتيا وړ نوي درمل په اړوند لست کې شامل شي، پدې برخه کې لازم معلومات د جلا خپرونـــې پـــه ډول ترتيـــب او د فورمـــولير د بشپړوونکي (مکمل) په توګه له هغهٔ سره ضميمه کېږي او په وروســـتي چاپ کې په فورمولير کې شاملېږي.

**د سوداګريز نوم نه درجېدل**

**اوومه ماده:**

په افغان ملي فورمولير کې د درملو ســـوداګريز نــوم د درجېـــدو وړ ندی.

توســـط کميتـــهٔ منـــدرج فقـــرهٔ (۱) ايــــن مــــاده صـــــورت می گيرد.

(۳) وزارت صحت عامـــه مکلـــف است ، فورمولير ملی افغان را طبع و نشر نمايد.

**نشرضميمهٔ فورمولير**

**مادهٔ ششم :**

هرگاه در جريان سه سال ميعاد نشر فورمـــــــوليرملی افغـــــــان ، ادويـــهٔ جديـــد مــــورد نيـــاز شامل لست مربوط گردد، معلومات لازم در زمينه بـــه شـــکل نـــشريهٔ جداگانــــه ترتيـــــب وبحيـــــث مکمـــــل فورمــــولير، ضــــميمهٔ آن شــــده ودرچـــاپ بعــــدی شامل فورمولير می گردد .

**عدم درج اسم تجارتی**

**مادهٔ هفتم:**

اسم تجارتی ادويـــه در فورمـــولير ملی افغـــان قـــا بـــل درج نمـــی باشد.

## څلورم فصل

## د درملو او نورو طبي لوازمو او تجهيزاتو توليد او واردول

### د اجازه ليک صادرېدل

**اتمه ماده:**

د عامې روغتيا وزارت، توليدوونکو، واردوونکو، د عمده پلورنې مؤسسو او درملتونونو ته، پدې قانون کې د درج شوو مجازو درملو او نورو طبي لوازمو او تجهيزاتو د توليد، واردولو او پلورنې د اجازه ليک د صادرولو، واکمنه مرجع ده.

### د مجاز درملو له لست څخه بهر د درملو توليد،واردول او وړاندې کول

**نهمه ماده:**

(۱) د مجازو درملو د لست څخه بهر د درملو او نورو طبي لوازمو او تجهيزاتو توليد، واردول او وړاندې کول جواز نلري.

(۲) په خاصو حالاتو کې، د مجازو

## فصل چهارم

## توليد و وارد کردن ادويه و ساير لوازم و تجهيزات طبی

### صدور اجازه نامه

**مادۀ هشتم:**

وزارت صحت عامه مرجع ذيصلاح صدور اجازۀ توليد، وارد کردن وفروش ادويه وساير لوازم و تجهيزات طبی مجاز مندرج اين قانون به مؤسسات توليدی، وارداتی ، عمده فروشی و دوا خانه ها می باشد.

### توليد، وارد کردن وعرضۀ ادويۀ خارج ازلست ادويۀ مجاز

**مادۀ نهم:**

(۱) توليد، وارد کردن و عرضۀ ادويه و ساير لوازم وتجهيزات طبی خارج لست ادويۀ مجاز جواز ندارد.

(۲) توليد، وارد کردن و عرضۀ

درملو له لست څخه بهر د درملو او نورو طبي لوازمواو تجهيزاتو توليد، واردول او وړاندې کول، د فارمسۍ د چارو د ادارې په وړانـــديز او د درملو د ملي بورد پـــه تـــصويب صورت موندلی شي.

**د فعاليت جواز**

**لسمه ماده:**

هغه شخص کولای شي د مجـــازو درملو او نـــورو طبـــي لوازمـــو او تجهيزاتو په توليـــد، واردولـــو او وړاندې کولو لاس پورې کړي چې د فارمسۍ چارو له ادارې څخه يې د فعاليت جواز اخستی وي.

**دولتي صحي مؤسسو ته د درملو د تدارک مرجع**

**يوولسمه ماده:**

(۱) د مجازو درملو په لست کې د شاملو مجازو درملو او نورو طبـــي لوازمو پلانونه او تدارک د اړونـــد تقنيني سند د حکمونو له په پام کې

ادويه و ساير لوازم وتجهيزات طبی خارج لـــست ادويـــهٔ مجـــاز در حالات خـــاص بـــه پيـــشنهاد ادارهٔ امور فارمـــسی و تـــصويب بـــورد ملـــی دوايـــی صـــورت گرفتـــه می تواند.

**جوازفعاليت**

**مادهٔ دهم :**

شخصی می تواند بـــه توليـــد، وارد کردن و عمده فروشی ادويه و ساير لوازم و تجهيـــزات طبـــی مجـــاز اشتغال ورزد که جواز فعاليـــت آن را از ادارهٔ امور فارمسی بدســـت آورده باشد .

**مرجـــع تـــدارک ادويـــه بـــرای مؤسسات صحی دولتی**

**مادهٔ يازدهم:**

(۱) پلانگذاری تدارک ادويه وساير لوازم طبی شامل لست ادويهٔ مجـــاز بـــا نظرداشـــت احکـــام ســـند تقنينـــی مربـــوط از طريـــق

نیولو سره، د فارمسۍ د چارو د اداري له لارې صورت مومي.

(۲) په خاصو حالاتو کې چې د مجازو درملو په لست کې د شاملو درملو او نورو طبي لوازمو اوتجهیزاتو مقدار، د دولتي صحي مؤسسو اړتیاوې پوره نکړی شي، د هغو د زیات واردولو اجازه، د فارمسۍ د چارو د اداري په وړاندیز او د درملیز ملي بورد په تصویب ورکول کېږي.

<u>د غیر دولتي مؤسسو لخوا د درملو واردول او وړاندې کول</u>

دوولسمه ماده:

په روغتیایي خدمتونواودبشر دوستۍ په فعالیتونو بوختې غیر دولتي مؤسسې کولای شي، دعامې روغتیا وزارت د اجازې له اخستوورسته، مجاز درمل او نور طبي لوازم او تجهیزات ، ددې قانون د حکمونو مطابق وارد او وړاندې کړي.

ادارهٔ امور فارمسی صورت می گیرد.

(۲) در حالات خاص که مقدار ادویه وسایر لوازم وتجهیزات طبی شامل لست ادویهٔ مجاز، نیازمندی مؤسسات صحی دولتی را تکافو کرده نتوانند، اجازهٔ وارد کردن بیشتر آن به پیشنهاد ادارهٔ امور فارمسی و تصویب بورد ملی دوایی اعطاء می گردد.

<u>وارد کردن وعرضهٔ ادویه توسط مؤسسات غیر دولتی</u>

مادهٔ دوازدهم :

مؤسسات غیر دولتی مصروف خدمات صحی وفعالیت های بشردوستانه می توانند ، بعد ازاخذ اجازهٔ وزارت صحت عامه ، ادویه وسایرلوازم وتجهیزات طبی مجاز را مطابق احکام این قانون وارد وعرضه نمایند .

**د علمي او څېړنيزو مؤسسو پــه واسطه د درملو واردول**

**ديارلسمه ماده:**

(۱) د علمي او څېړنيزو مؤسسو د اړتيا وړ مجاز درملو او نورو طبــي لوازمــو او تجهيزاتــو واردول، د درمليز ملي بورد له تأييد وروسته، د اړونــدو څــانګو پــه واســطه صورت مومي.

(۲) توليـــدي او واردوونکــــي مؤسسې نــشي کــولای داړتيــا وړ مقــدار څخــه چــې د عــامې روغتيـــا وزارت د اړونـــدو څــانګو لخــوا ټاکــل کېــږي، اضافه مجاز درمل او نور طبي لوازم او تجهيزات توليد او وارد کړي.

هغه درمل او طبي لوازم او تجهيزات چـــې د صـــادرېدوپه غـــرض برابرېږي، لدې امر څخه مــستثنیٰ دي.

**وارد کردن ادويه توسط مؤسسات علمی وتحقيقی**

**مادۀ سيزدهم :**

(۱) وارد کردن ادويه و ساير لوازم وتجهيزات طبی مــورد ضــرورت مؤســسات علمـــی و تحقيقـــی بعد از تائيد بــورد ملــی دوايــی توسط شــعبات مربــوط صــورت می گيرد.

(۲) مؤسسات توليدی و وارداتــی نمـــی تواننـــد ادويـــه و ديگـــر لـــوازم و تجهيـــزات طبـــی مجـــاز اضـــافه از مقـــدار مورد ضـــرورت را کـــه از طـــرف شعبات ذيربط وزارت صحت عامـــه معين می گردد، توليد و وارد نمايند. ادويـــۀ و لـــوزام و تجهيـــزات طبـــی کـــه بـــه منظـــور صـــدور تهيه می گردد، از اين امر مـــستثنیٰ است.

**د کیمیاوي موادو برابرول**

**څوارلسمه ماده:**

**په طبي لابراتوارونو کې د ګټې اخستنې وړ کیمیاوي مواد، د فارمسۍ د چارو د ادارې یا د درملو دواردوونکي شرکت (کمپنۍ) لخوا، د اړوند تقنیني سند مطابق برابرېږي.**

**په ځانګړو پېښو کې د ګټې اخستنې وړ درملو تدارک**

**پنځلسمه ماده:**

**(۱) واردوونکي او د فارمسۍ تصدي، د فارمسۍ د چارو د ادارې لخوا د ترتیب شوې ټاکلې ونډې مطابق، مکلف دي، هغه درمل چې د ګټې اخستنې موارد یې په ځانګړو او نادرو پېښو پورې منحصر وي او د حیاتي ارزښت لرونکي وي، تدارک کړي.**

**(۲) د مرکز او ولایتونو درملتونونه مکلف دي، ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي درمل د فارمسۍ له**

**تهیهٔ مواد کیمیاوی**

**مادهٔ چهاردهم :**

**مواد کیمیاوی قابل استفاده در لابراتوار های طبی ازطرف ادارهٔ امور فارمسی یا شرکت (کمپنی) وارداتی ادویه مطابق سند تقنینی مربوط تهیه می گردد.**

**تدارک ادویهٔ مورد استفاده درواقعات خاص**

**مادهٔ پانزدهم :**

**(۱) وارد کنندگان وتصدی فارمسی طبق سهمیهٔ معینهٔ مرتبهٔ ادارهٔ امورفارمسی مکلف اند ، ادویهٔ را که موارد استفادهٔ آن منحصر به واقعات خاص ونادربوده و دارای ارزش حیاتی باشد، تدارک نمایند .**

**(۲) دواخانه های مرکز و ولایات مکلف اند ، ادویهٔ مندرج فقرهٔ (۱) این ماده را از تصدی فارمسی یا**

تصدۍ يا واردوونکو څخه تدارک کړي او د اړوند تقنيني سند مطابق يې اړتيا لرونکو ته وړاندې کړي.

د درملو د پلورنې د بيې ټاکل

شپاړسمه ماده:

(۱) د مجازو درملو او نورو طبي لوازمو او تجهيزاتو د پلورنې بيه، د رسمي اسنادو په اساس د فارمسۍ د چارو د ادارې لخوا ټاکل کېږي.

(۲) د مجازو درملو او نورو طبي لوازمو او تجهيزاتو په توليد او واردولو پورې اړوندې چارې، د جلا مقررې مطابق تنظيمېږي.

پنځم فصل

